عبدالغفور لېوال
۲۰۲۲/۱۲/۱۴

# «غړ» نه مري

## «په لويو غرو باندې راتاو شول توپانونه...»

سپوږمۍ ډوبيږي
يوه بلبله ده الوتې د اسمان لوري ته
هېڅ ولاړ غر به يې راغبرګه نه کړي:
«راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګله کې...»
يوه ګلپوښه بګۍ
چې يې راکاږي په هوا کې ګــــــــــــلسرکي مرغۍ
په کې ده ناسته د نارنجو د ګلونو پر تخت
د تغزل ملکه
ځومره په ناز رادرومي
پاېزېب يې:
شرنګ
شرنګ
شرنګ
د لارې اړخ نه يو ملنګ پاڅيږي،
غړ يې شي غاړه غړۍ
له ګلسرکو مرغکيو او بګيو سره
د پايزېبونو له شرنګيو سره:
«ورو ـ ورو کېږده قدمونه
اشنا،
«شرنګ د پايزېب دې عالمونه خبروينه
اشنا،
ورو ورو کېږده قدمونه
اشنا.»
د پايزېبونو او غړونو ملکه يې کړي ورغبرګه په خواږه ترنم:
«وه ملنګه ياره!
کېږده قدم ورو...»
او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

دواړه وخاندي
او وخاندي
کټ ـ کټ وخاندي
له سترګو اوښکې راشي
پایزېب له ډېره سوزه
نارې کړي:
شرنګ
شرنګ
شرنګ

***

چا پوښتلي له بلبل نه
ولې والوتې له ګل نه؟
لا جونګړه جوړه نه وه
چې راووتو ځنګل نه
لا مې ښنلې پیالې نه وې
د دوه سترګو له ځمبل نه
چا ګڼله چې یو وخت به
مورې بېلېږو له کابل نه
د زاخېل بیمارې سترګې
لا څه غواړي قمر ګل نه
«ځنګه مینه زما و ستا وه
څنګه هېر شو له یو بل نه
زه خو ګل ستا د پیکي وم
څنګه پرېوتم وربل نه...»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ